# د افغانستان اسلامي امارت

**د ارشـــــاد، حــــج او اوقافــــو وزارت**

**د مساجدو او حُسَينيو د ارشاد او انسجام لوی رياست**

**د جمعې ورځی د خطابت موضوع او**

**ليکلی تقرير اوبيان چی د هيواد دمرکز او ولاياتو**

**ټولو خطيبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې ليږل کيږي**

---

**۲۸/ جمادی الثانية/۱۴۴۷ هـ، ق مطابق ۲۸/ قوس/۱۴۰۴هـ، ش**

## د مسلمانانو ترمنځ د ويره اچوونکو خبرونو خپرول ، د منافقانو کار دی

**بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ**

الحمد لله رب العالمين، ولي الصالحين، ولا عدوان إلا على الظالمين، والصلاة والسلام على إمام المتقين وقدوة الناس أجمعين، وعلى آله وصحبه والتابعين.أمَّا بَعْد:

قال الله سبحانه وتعالى:(وَإِذَا جَاءَهُمْ أَمْرٌ مِنَ الأَمْنِ أَوِ الْخَوْفِ أَذَاعُوا بِهِ وَلَوْ رَدُّوهُ إِلَى الرَّسُولِ وَإِلَى أُولِي الأَمْرِ مِنْهُمْ لَعَلِمَهُ الَّذِينَ يَسْتَنْبِطُونَهُ مِنْهُمْ وَلَوْلا فَضْلُ اللَّهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهُ لاتَّبَعْتُمُ الشَّيْطَانَ إِلا قَلِيلاً).النساء:(۸۳)

**درنو او عزتمنو حاضرينو !**

**السلام عليكم ورحمة الله وبركاته.**

الله جل جلاله پر مونږ عظيم باندې فضـل کړی دی ، چې مونږ يې د اسـلامي نظام څښـتنان کړي يو او مونږ يې د شرق او غرب له غلامۍ څخه ژغورلي يو . په ټوله نړۍ کې داسـې هيواد نشـته چې هغه د شرق يا د غرب سره منسـلک نه وي، نن سبا افغانستان د نړۍ په کچه يواځنی هيواد دی ، چې نه د شرق سره منسلک دی او نه د غرب سره.

د نړۍ پر مخ يواځې يو افغـانســـتان دی؛ چې په هر څه کې آزادي لري، د زعيم په انتخاب کې آزادي لري ، د قانون له پلوه آزادي لري؛ ځکه چې په نړۍ کې قوانين د نورو په خوښــه جوړيږي او زمونږ قانون يواځې زمونږ رب له خوا جوړ شـوی وی دی چې هغه قرآن کريم او نبوي سُنت دي. زمونږ قانون قرآن ، سُنت او د قرآن او سُـنت څخه د فقهاء کرامو مستنبطه فقه ده، په اقتصاد کې آزاد يو او د چا په فرمايشاتو ملزَم نه يو، او همدا رنګه په سياست کې هم آزاد يو.

همدا وجه ده چې کفري ملکونه زمونږ آزادي نشي– زغملای او غربي رسـنۍ زمونږ او زمونږ د نظام په اړه ناوړه تبليغات کوي او ســاده خلک او هغه ځوک چې د افغانســتان څخه لرې پراته دي هغوی په غربي په ناوړه تبليغاتو غوليږي او هغې ته لمن هم وهي او د غربي رسنيو د تبليغاتو تر تأثير لاندې راځي.

د ناوړه تبليغاتو او ددرواغو خبرونو خپرولو جګړه څه نه وې خبره نه ده، بلکې د ناوړه تبليغاتو خپرول د رسـول الله صـلی الله عليه وسـلم په وخت کې هم موجود ؤ، د دروغ ويلو جګړه او د مسـلمانانو ترمنځ ډار اچوونکي خبرونه به د نبي عليه السلام

په وخت کې منافقانو خپرول، لکه چې الله تعالی فرمايلي دي:( الَّذِينَ قَالَ لَهُمُ النَّاسُ إِنَّ النَّاسَ قَدْ جَمَعُواْ لَكُمْ فَاخْشَوْهُمْ فَزَادَهُمْ إِيمَاناً وَقَالُواْ حَسْبُنَا اللّهُ وَنِعْمَ الْوَكِيلُ).آل عمران:(۱۷۳)
ترجمه:(دوی ) هغه کسان دي چې وويل دوی ته ځينو خلکو چې بېشکه د مکې خلق په تحقيق سره را ټول شوي دي ستاسې د جنګ لپاره نو وويرېږئ له دوی نه يا په تحقيق سره ټول کړی يې دی سامان د مقابلې ستاسې لپاره نو وويرېږئ له دوی نه پس دغو ويرولو لا زيات کړ ايمان د دوی (يقين زړور توب) او وويل دوی بس دی مونږ ته الله او ښومره ښه وکيل کار جوړ وونکی دی الله.

عموماً ناوړه تبليغات او په مسلمانانو کې ويره اچوونکي خبرونه د مختلفو غرضونو لپاره خپرول کيږي ،چې ځينې يې په لاندې توګه دي:

**۱-د مسلمانانو ترمنځ ويره او خوف رامنځ ته کول :**

په مسلمانانو کې درواغ او ويره اچوونکي خبرونه خپرول ددې لپاره شائع کيږي ، ترڅو د مسلمانانو په ټولنه کې ويره، رُعب او نا ارامي رامنځ ته شي او داسې ددرواغو خبرونه خپرول اکثره وخت د مسلمانانو او کفارو د مسلح جنګ پر وخت اچول کيږي، ددې لپاره چې دمسلمانانو ترمنځ شکست رامنځ ته شي او د جنګ څخه لاس واخلي او يا يې مورال کمزوری شي، لکه په غزوه يې أحد کې چې شيطان لوړ آواز سره آواز وکړ: (ألا إن محمدا قد قتل.) السيرة النبوية لابن كثير (۳/ ٦۰)

ژباړه: خبردار! بيشکه محمد(صلی الله عليه وسلم) ووژل شو.

ددې آواز په اوريدو سره د ځينو صحابه کرامو مورال کمزوری شو او ځينو نورو بيا وويل: که چيرې محمد(صلی الله عليه وسلم) وژل شوی هم وي مونږ به د هغه چا لپاره جهاد کوو د چا لپاره چې حضرت محمد (صلی الله عليه وسلم ) جهاد کولو.

**۲-د مسلمانانو ترمنځ د نفرت او کرکې او اختلاف په موخه د ويره اچوونکو خبرونو خپرول.**

ځيني وخت کې غربي رسنۍ او نور مجازي صفحات دمسلمانانو ترمنځ ويره اچوونکي ددرواغو تبليغات ددې لپاره کوي چې د مسلمانانو ترمنځ کرکه ، نفرت ، اختلاف او بې اتفاقي رامنځ ته کړي.
د مسلمانانو وحدت او يووالی کفار نشي زغملای، نو ددرواغو تبليغاتو له لارې دوی کوښښ کوي، چې د مسلمانانو ترمنځ کرکه، نفرت ، بد بينۍ او زړه بداوی رامنځ ته کړي، چې دا دمنافقانو خصلت او خوی دی.
د اِفک په واقعه کې چې عبدالله بن ابی بن سلول لعنه الله يې سرکرده ؤ او په عائشې رضي الله عنها پورې يې ددرواغو بهتان وتړلو او منافقانو د دوراغو خبر په ټوله مدينه منوره کې خپور کړو، چې له امله يې حضرت محمد مصطفی صلی الله عليه وسلم هم پريشانه شو.
د اِفک ددرواغو خبرونو د خپرولو په وجه د صحابه کرامو ترمنځ اختلاف او خپګان او بدګماني رامنځ ته شوه. ځيني کسان د ساده ګۍ او نا پوهۍ له امله ددغو ناوړه تبليغاتو تر اغيز لاندې راغلل لکه مسطح بن اثاثه رضي الله عنه او حضرت ابو بکر صديق رضي الله قسم وخوړلو چې مسطح سره به نوره مالي مرسته نکوي.د حضرت علي کرم الله وجهه او د حسان بن ثابت رضي الله عنه نظر دا ؤ چې نبي عليه السلام کولای شي چې حضرت عائشه رضي الله عنها پريږدي.

الله تعالی د افک د واقعې په اړه فرمايلي دي:(إِذْ تَلَقَّوْنَهُ بِأَلْسِنَتِكُمْ وَتَقُولُونَ بِأَفْوَاهِكُم مَّا لَيْسَ لَكُم بِهِ عِلْمٌ وَتَحْسَبُونَهُ هَيِّنًا وَهُوَ عِندَ اللَّهِ عَظِيمٌ).النور: (۱۵)

ترجمه: کله چې واخیست تاسو دا فلک په ژبو خپلو چې یو له بله مو پوښتنه کوله او ویله به مو په خولو خپلو سره هغه خبره چې نه وو تاسو ته په هغې باندې هیڅ علم او ګڼله تاسې دغه خبره آسانه چې هیڅ ګناه په کې نشته حال دا چې دغه خبره په نزد د الله کې ډېره لویه ده له حیثیته د ګناه نه .

**۳-ددرواغو ناوړه تبلیغات او شائعات ځینې وخت د سیاسي اغراضو په هدف خلک خپروي.**

په بعضو وختونو کې کله چې د مسلمانانو ټولنه متحده وي او خلک د خپل امیر په اطاعت باندې راټول وي ؛ نو منافق مزاجه خلک د نظام په خلاف او زمامدارانو په خلاف پرو پاګند ته مخه کړي او په اسلامي ټولنه کې د صوتي، سمعي او بصري نشراتي وسائلو له لارې په اسلامي ټولنه کې درواغ خپروي ، ترڅو د حاکم او رعیت ترمنځ فاصله رامنځ ته کړي او په اسلامي نظام کې خلل رامنځ ته کړي لکه په اوسني وخت کې چې داسلامي امارت پر خلاف غربي نړۍ ناوړه تبلیغات خپروي لکه د ښځو د حقوقو عدم رعایت، د فقر زیاتوالی، د بې کارۍ زیاتوالی، د خوار ځواکۍ زیاتوالی او داسې نور.

دداسې زهرجنو درواغو خپرول موخه داوې چې د نظام د ارکانو ترمنځ بې باوري رامنځ ته شي، دنظام مثبتې کړنې ددرواغو تر سیوري لاندې پټې کړي او منفي اړخونو ته هواء ورکړي.

رعیت او د ټولنې افراد د خپل نظام په قوت او پیاوړتیا بې باوره کړي او ټولنه له داخل څخه وپاشي.

**۴-د خلکو د حق نه د اړولو لپاره ناوړه تبلیغات او ویروونکي درواغ خپرول.**

ځینې وخت ناوړه تبلیغات او ویروونکي درواغو اشاعت ددې لپاره کیږي چې خلک د حق څخه واړول شي او دحق په رابطه د خلکو په زړونو کې شکونه را پیدا کړي او د درواغو په اوریدلو سره بیا خلک حق د زړه په سترګو نهویني او د حق په حقانیت نه ګواهي ورکوي او نه یې ملاتړ کوي ځکه چې د حق په حقانیت ورته شک پیدا شوی وي.

بیا هم برلاسی د حق دی او حق به ثابتیږي او حاکمیږي ولو که ددرواغو خپروونکي یې نه غواړي. لکه د بعثت څخه چې وروسته د مکې مکرمې خلکو داسې تبلیغات کول چې حضرت محمد صلی الله علیه وسلم کاهن او ساحر دی. د ابو ذر غفاري رضي الله عنه د هغه مشهور حدیث په یوه برخه کې راځي:(قُلْتُ فَمَا يَقُولُ النَّاسُ قَالَ يَقُولُونَ شَاعِرٌ كَاهِنٌ سَاحِرٌ. وَكَانَ أُنَيْسٌ أَحَدَ الشُّعَرَاءِ. قَالَ أُنَيْسٌ لَقَدْ سَمِعْتُ قَوْلَ الْكَهَنَةِ فَمَا هُوَ بِقَوْلِهِمْ وَلَقَدْ وَضَعْتُ قَوْلَهُ عَلَى أَقْرَاءِ الشِّعْرِ فَمَا يَلْتَئِمُ عَلَى لِسَانِ أَحَدٍ بَعْدِى أَنَّهُ شِعْرٌ وَاللَّهِ إِنَّهُ لَصَادِقٌ وَإِنَّهُمْ لَكَاذِبُونَ). صحیح مسلم (۷/ ۱۵۲)

ژباړه: ابو ذر رضي الله عنه وایې چې ما ورته وویل: (أُ نیس ته) خلکو څه وایې د هغه په شان کې (د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم په شان کې) أُنیس راته وویل: خلک د هغه په اړه وایې چې هغه شاعر دی ، کاهن دی او ساحر دی، او أُنیس د شاعرانو له جملې څخه ؤ. أنیس وویل: ما د کاهنانو خبرې اوریدلي دي ، نو د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم خبرې د کاهنانو د خبرو په شان نه دي او دحضرت محمد صلی الله علیه وسلم شعر مې وزن کړ د شاعرانو د وزنونو سره ؛ نو نه برابریږي د هغه شعر د هیچا له ژبې سره چې هغه دې شعر وي. تحقیق سره حضرت محمد صلی الله علیه وسلم خامخا رېښتینی دی او دوی درواغجن دي.

**۵-په اسلامي ټولنه کې د امنیت د منځه وړلو لپاره ناوړه تبلیغات او ویروونکي درواغ خپرول کیږي.**

ځینې وخت ددرواغو تبلیغاتو نشر او اشاعت ددې لپاره کیږي چې د نورو خلکو امنیت تهدید کړي او د په ټولنه کې بې نظمي رامنځ ته کړي او امنیت د خلکو له ژوند څخه پورته شي.

ارامي ، نظم او سكون په نا ارمۍ ، نظم په بې نظمۍ او سكون په اضطراب بدل شي. لله الحمد مونږ نن سبا په افغانستان كې يو مثالي نظم او امنيت لرو چې په امريكا او اروپا داسې امنيت نشته.

غربي رسنۍ داسې درواغجن د افغانستان په اړه داسې ناوړه او درواغجن تبليغات كوي ترڅو خلكو ته وښايي چې هلته په افغانستان كې خلک وژل كيږي ، د خلكو مالونه چور كيږي ، د خلكو ابرو او عزت په خطر كې دی.

د ويروونكو خبرونو خپورل د منافقانو كار دی . الله تعالی د منافقانو په اړه فرمايلي دي:(وَإِذَا جَاءَهُمْ أَمْرٌ مِنَ الأَمْنِ أَوِ الْخَوْفِ أَذَاعُوا بِهِ وَلَوْ رَدُّوهُ إِلَى الرَّسُولِ وَإِلَى أُولِي الأَمْرِ مِنْهُمْ لَعَلِمَهُ الَّذِينَ يَسْتَنْبِطُونَهُ مِنْهُمْ وَلَوْلا فَضْلُ اللَّهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهُ لاتَّبَعْتُمُ الشَّيْطَانَ إِلا قَلِيلاً).النساء:(٨٣)

ترجمه: او كله چې راشي دې منافقانو ته كوم امر خبره له امن نصرت يا كوم خبر له ويرې هزيمت نو مشهوروي دوی هغه خبر او كه دوی ور رسولې او پرېښي وی دا خبر رسول د الله ته او حاكمانو خپلو ته له دوی نه نو خامخا معلوم به وی تدبير د دې كار هغو كسانو ته چې ايستلی او بيلولی شي ښه له بدو له دوی څنې رسول الله او امراء نو تحقيق به يې شوی وی او كه نه وی فضل د الله پر تاسې په اسلام او رحمت د ده په نزول د قرآن نو خامخا به متابعت كړی وو تاسې د شيطان مگر متابعت به نه وو كړی له تاسې څخه لږو.

په يو بل مبارك آيت كې راځي چې ناوړه او درواغجن تبليغات د منافقانو او يهودانو كار دی(لَئِنْ لَمْ يَنْتَهِ الْمُنَافِقُونَ وَالَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ مَرَضٌ وَالْمُرْجِفُونَ فِي الْمَدِينَةِ لَنُغْرِيَنَّكَ بِهِمْ ثُمَّ لا يُجَاوِرُونَكَ فِيهَا إِلَّا قَلِيلاً) الاحزاب: (٦٠)

ترجمه: قسم دی كه منع نشول منافقان له نفاق څخه او هغه كسان چې په زړونو د دوی كې رنځ دی (د زنا كولو له بد كاری خپلې نه). او بدې آوازې گډوونكي په ښار د مدينې كې نو خامخا به وگمارو مسلط به كړو مونږ تا پر دوی بيا به همسايه توب ونه كړي دوی د تا په دغه مدينه كې مگر لږ وخت.

## د ښمنانو دناوړه تبليغاتو او د ويره اچوونكو خبرونو خپرولو په اړه داسلام موقف:

اسلامي شريعت د غوره اخلاقو دين دی او په ټولنه كې د هر مرض علاج په گوته كړی دی ، چې د ټولنيزو مرضونو له جملې څخه يو هم په د مسلمانانو ترمنځ د ويروونكو خبرونو خپرول دي ، ددې مرض علاج او مخنيوی په ډيره احسنه وجه كړی دی .

ويروونكو خبرونو خپرول بشري ټولنه له منځه وړي ، د ريښتيا ځای درواغ نيسي، د حقيقت ځای درواغ نيسي، د سكون او ارامۍ ځای اضطراب نيسي او دا ټول يا اكثره شائعات يا خو د تلويزونو په وسيله خپريږي يا د خبرې پاڼو څخه خپريږي او د اسلام او مسلمانانو په اړه ناوړه تبليغات اكثره د ټولنيزو صفحاتو څخه خپريږي لكه فيسبوک، انستا گرام، ټويټر، گوگل، يو ټيوب او داسې نور.

دا هغه صفحات دي چې خلک پرته د كوم مسئوليت منلو د اسلامي امارت پر ضد ناوړه تبليغات او ډاروونكي درواغ خپريږي.

**۱-د تثبُّت او تحقيق په اصل عمل كول:**

په مســلمانانو کې د ناوړه تبلیغاتو او د ویره اچوونکو خبرونو د خپریدو د مخنیوي لپاره د اســلام مبارک دین د خبرو او تبلیغاتو د تحقیق او حقیقت معلومولو اصل حتمي کړی دی.

د اسـلامي شـریعت حکم دا دی چې کله تاته دکوم فاسـق شـخص له خوا کومه ناوړه خبره در ورسـیږي فوراً هغه مه منئ، بلکې د هغې په اړه تحقیق وکړئ او پرته د هغه خبر د حقیقت د معلومولو څخه هغه مه خپروئ، ځکه کیدای شــي چې دغه خبره دروغ وي او په خلکو کې ددرواغو له لارې نشـر شـوي وي، نو که چیرې تاسـې پرته له تحقیق څخه دغه ناوړه خبره خپره کړئ بیا به ور باندې پښـیمانه یاسـت مگر پښـیماني به درته هیڅ فائده ونلري. الله جل جلاله فرمایلي دي:(يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنْ جَاءَكُمْ فَاسِقٌ بِنَبَإٍ فَتَبَيَّنُوا أَنْ تُصِيبُوا قَوْمًا بِجَهَالَةٍ فَتُصْبِحُوا عَلَى مَا فَعَلْتُمْ نَادِمِينَ)الحجرات:(٦)

ترجمه:ای هغو کسانو چې تاسـو ایمان راوړی که چېرې راتگ وکړ تاسو لره فاسق او بد کار په یوه خبره سره نو تاسو ښه تحقیق په کې وکړئ له جهته د وېرې د دې چې وبه رسـوئ تاســو یوه قوم لره ضــرر او تاوان په ناپوهی ســره نو پس وبه گرځئ تاسو په هغه څه سره چې مو عمل کړی دی خفه او پښېمانه.

د اِفک په واقعه کې ځینې صــحابه کرام د عدم تثبُّت او د عدم تحقیق له وجې نه د منافقانو سره ملگري شــوي ؤ، چې په قرآن کریم کې د خبرې د حقیقت نه معلومولو په اړه ســخت وعید راغلی او هغه کســان چې په دغه واقعه کې شریک شــوي ؤ الله تعالی لعنت ور باندې وویلو ؛ځکه چې په اســلامي شریعت کې د مســلمانانو اعراض او آبرو ته زیان رســول ډیره لویه گناه ده. اللـه تعـالی فرمـایلي دي:( إِنَّ الَّـذِينَ يَرْمُونَ الْمُحْصَــنَـاتِ الْغَـافِلَاتِ الْمُؤْمِنَـاتِ لُعِنُوا فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ، ).النور:( ٢٣-٢٤)

ترجمه:بېشــکه هغه کســان چې وولي دوی په نســبت د زنا سره ښــځې پاکې عفیفې ناخبره له دغو بدو ایمان راوړونکې په الله او رسول لعنت کړی شوی دی په دوی باندې په دنیا کې او په آخرت کې او شته دوی ته عذاب ډېر لوی.

په یو بل مبارک آیت کې راځي:(يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا ضَرَبْتُمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَتَبَيَّنُوا وَلا تَقُولُوا لِمَنْ أَلْقَى إِلَيْكُمُ السَّلامَ لَسْتَ مُؤْمِناً تَبْتَغُونَ عَرَضَ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا فَعِنْدَ اللَّهِ مَغَانِمُ كَثِيرَةٌ ).النساء: (٩٤)

ترجمه: ای هغو کســانو چې ایمان یې راوړی دی ای مؤمنانو کله چې ســفر کوئ تاســې په لاره د الله کې جهاد ته نو ښــه تحقیق وکړئ او مه وایئ تاسـې هغه چا ته چې در اچوي تاسـې ته سـلام چې نه یې ته مؤمن او داسـلام کلمه دې له وېرې ویلې ده غواړئ تاســې مال اســباب د دې حیات دنیوي ژوندون لږ خســیس او که واقعي غنیمت غواړئ پس دې الله سره غنیمتونه ډېر.

**۲-د مسلمانانو په اړه د ناوړه تبلیغاتو او د ویره اچوونکو خبرونو خلکو باندې الله تعالی لعنت ویلی دی.**

په مسـلمانانو کې د ناوړه خبرونو خپرول او په مسـلمانانو کې د مسـلمانانو په هکله بد تبلیغات خپرول د نبي علیه السلام په وخت کې د منافقانو کار ؤ، نو ځکه الله تعالی د ناوړه خبرونو په خپروونکو او په مســلمانانو کې د ویره اچوونکو خبرونو په خپروونکو باندې لعنت ویلی دی او الله تعالی فرمایلي دي که چیرې دا ویره اچوونکي د خپلو عملونو څخه منع نه شــول

دوی به په ناکاره مرگ سره ووژول شي. د احزاب په غزوه کې منافقانو ناوړه او درواغجن خبرونه خپاره کړل ، الله تعالی ورته په ځواب کې وفرمایل:(لَئِنْ لَمْ يَنْتَهِ الْمُنَافِقُونَ وَالَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ مَرَضٌ وَالْمُرْجِفُونَ فِي الْمَدِينَةِ لَنُغْرِيَنَّكَ بِهِمْ ثُمَّ لَا يُجَاوِرُونَكَ فِيهَا إِلَّا قَلِيلًا، مَلْعُونِينَ أَيْنَمَا ثُقِفُوا أُخِذُوا وَقُتِّلُوا تَقْتِيلًا).الأحزاب:( ٦٠-٦١)

ترجمه: قسم دی که منع نشول منافقان له نفاقه څخه او هغه کسان چې په زړونو د دوی کې رنځ دی د زنا کولو له بد کارۍ خپلې نه او بدې آوازې ګډوونکي په ښار د مدینې کې نو خامخا به و ګمارو مسلط به کړو مونږ خامخا تا پر دوی بیا به همسایه توب ونه کړي دوی د تا په دغه مدینه کې مګر لږ وخت رټلي تر ټلي شوي هر چېرې چې وموندلی شي وبه نیولی شي او وبه وژلی شي په وژلو د خوارۍ سره.

د منافقانو او هغو کسانو لپاره چې درواغ خپروي(یهودان) الله تعالی څلور قسمه عذاب مقرر کړی دی. لومړی داچې الله تعالی فرمایي مونږ تا ور باندې مسلط کړو ای محمده! (صلی الله علیه وسلم). دوهم داچې دوی نور ستا په ګاونډ کې نور نه اوسیږي یعنې دوی به له مدینې منورې اوباسو.دریم : په دوی به لعنت وي د الله تعالی له خوا. څلورم: په هرځای کې مو چې دوی(یهودان) پیدا کړل وبه نیول شي او وبه وژل شي.

**٣-د مسلمانانو ترمنځ ویره اچوونکو او د مسلمانانو په اړه د ناوړه تبلیغاتو نشروونکو لپاره درد وونکی عذاب دی.**

الله تعالی په قرآن کریم کې ددرواغو خپروونکو او د ناوړه خبرونو خپروونکو په اړه لوی شناعت او بدي بیان کړی دی او داسې یې فرمایلي دي، چې کوم کسان د درواغو او ویره اچوونکو خبرونو په خپرولو کې برخه اخلي دداسې کسانو لپاره په دنیا او آخرت کې درد وونکی عذاب دی.

الله جل جلاله فرمایلي دي: (إِنَّ الَّذِينَ يُحِبُّونَ أَنْ تَشِيعَ الْفَاحِشَةُ فِي الَّذِينَ آمَنُوا لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَاللَّهُ يَعْلَمُ وَأَنْتُمْ لَا تَعْلَمُونَ)النور:( ١٩)

ترجمه: بېشکه هغه کسان چې خوښوي دغه خبره چې خوره شي فاحشه بدنامي په حق د هغو کسانو کې چې ایمان یې راوړی دی شته دغو کسانو ته عذاب دردناک په دنیا کې په حد د قذف او په بد نامۍ سره او په آخرت کې په اور د دوزخ سره او الله ښه عالم دی او تاسې نه پوهیږئ پر ضرر د هغې خورې کړې فاحشې.

**٤-د هغې ناوړه خبرې خپرول ګناه ده چې تاته ور باندې پوره علم نه وي او د مسلمانانو د عیب په برخه کې وي.**

د ناوړه خبرونو خپرولو او په مسلمانانو کې ویره اچوونکي خبرونو خپرولو په برخه کې چې تاته ور باندې علم نه وي الله تعالی سخت وعید ذکر کړی دی، ځکه چې دداسې خبرونو خپرول چې په اړه یې تاته پوره علم نه وي ډېر بد عواقب لري. د مسلمانانو د ویرې لامل ګرځي، په ټولنه کې د رښتیاوو پرځای درواغ خپریږي، په خلکو د تهمت او بهتان او د غیبت کولو سبب ګرځي، له همدې امله الله تعالی ورته لویه ګناه ویلې ده.

(إِذْ تَلَقَّوْنَهُ بِأَلْسِنَتِكُمْ وَتَقُولُونَ بِأَفْوَاهِكُمْ مَا لَيْسَ لَكُمْ بِهِ عِلْمٌ وَتَحْسَبُونَهُ هَيِّنًا وَهُوَ عِنْدَ اللَّهِ عَظِيمٌ).النور:( ١٥).

ترجمه: کله چې واخیست تاسو دا افک په ژبو خپلو چې یو له بله مو پوښتنه کوله او ویله به مو په خولو خپلو سره هغه خبره چې نه وو تاسو ته په هغې باندې هیڅ علم او ګڼله تاسې دغه خبره آسانه چې هیڅ ګناه په کې نشته حال دا چې دغه خبره په نزد د الله کې ډېره لویه ده له حیثیته د ګناه نه.

په ذکر شوی مبارک آیت کې الله تعالی درې قسمه خطاګانو ته اشاره کړی ده:

۱-تاسو دغه د افک شائعه او خبر استقبال وکړ او هغه مو په خپلو منځو کې نقل کړه.

۲-دغه د افک د منافقانو شائعه مو بدون د فکر ، تحقیق او علم څخه په خلکو کې نشر کړه.

۳-د غه شائعه چې منافقانو ترتیب کړی وه ، تاسو وړه وبلله او د ساعت تیری لپاره او وخت تیرولو لپاره مو په خوله کې اړوله را اوړله چې په دې کې دې خبرې ته اشاره ده چې پرته له دلیل تاسو څرنګه دغه عظیمه افتراء د یو بل سره شریکوله؟

**۵-پر مسلمانانو نیک ګمان درلودل د ناوړه شائعاتو او ویره اچوونکو خبرونو د خپراوی مخنیوی کوي.**

د اسلامي اخلاقو له جملې څخه یوه مهمه خبره داده چې باید هر مسلمان په نورو مسلمانانو نیک ګمان ولري او په مسلمانانو پرته له کوم مُوجّه دلیله بدګماني ونکړي او که څوک چاته د کوم مسلمان په اړه ناوړه خبر راوړ باید چې په اړه یې تحقیق وکړي، چې په دې کار سره به له بدګمانۍ څخه وژغورل شي او له بل پلوه به د ناوړه تبلیغاتو مخه ونیول شي.

الله تعالی ددې اصل په اړه په سورت النور کې فرمایې:(لَوْلَا إِذْ سَمِعْتُمُوهُ ظَنَّ الْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنَاتُ بِأَنْفُسِهِمْ خَيْرًا وَقَالُوا هَذَا إِفْكٌ مُبِينٌ).النور:( ۱۲)

ترجمه: ولې نه په هغه وخت کې چې واورېده تاسې دا خبره ګمان کاوه ایماندارو سړیو او ایمان دارو ښځو په نفسونو خپلو پخپلو منځونو کې د خیر خبرې او ویلې وی دوی ټولو داسې دا خبره دروغ ده ښکاره.

په دې مبارک آیت کې الله تعالی د هغو خلکو په برخه کې وایې چې په ناپوهۍ سره د افک په واقعه کې شریک شوي ؤ او فرمایې چې مؤمنانو سړو او مؤمنانو ښځو د حضرت عائشې رضي الله عنها حالت په خپل حالت باندې نه قیاس کولو او په ځانونو او پر هغې یې نیک ګمان نه کولو او نه ویلي به ؤ چې دا ښکاره درواغ دي.

په یو بل مبارک آیت کې راځي:(وَلَوْلَا إِذْ سَمِعْتُمُوهُ قُلْتُمْ مَا يَكُونُ لَنَا أَنْ نَتَكَلَّمَ بِهَذَا سُبْحَانَكَ هَذَا بُهْتَانٌ عَظِيمٌ).النور:( ۱٦).

ترجمه: ولې نه کله چې واورېده تاسې دا خبره چې ویلي وئ تاسې نه ښایي مونږ ته دا کار چې خوله وخوځوو په دې خبره باندې پاکي ده تاته ای ربه دا دروغ دي ډېر لوی چې تړلی شوي دي د منافقانو له خوا.

په حدیث شریف کې راځي:عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ « إِيَّاكُمْ وَالظَّنَّ فَإِنَّ الظَّنَّ أَكْذَبُ الْحَدِيثِ». سنن أبى داود-ن (٤/ ٤٣٢)

ژباړه: د ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: ځانونه وساتئ له بدگمان څخه ،ځکه چې بد گمان تر ټولو زيات درواغ دي.

**۷-د مسلمانانو په اړه ناوړه تبليغات او ويره اچوونکې خبرونه خپرول ددرواغو خپرول دي او د درواغو خپرول حرام دي.**

د مسلمانانو او اسلامي ټولنې په ضد باندې چې څوک ناوړه خبرونه خبروي ، هغه اکثره حقيقت نلري او د مسلمانانو ترمنځ د ويرې، خوف او بې اعتمادۍ په غرض يې د اسلام دښمنان د مجازي صفحاتو او نشراتو له لارې خپروي . مسلمان لره په كار دي چې دغه ډول خبرونو باندې باور ونکړي او دغه د غربي رسنيو خبرونه د خپل مبائل څخه خپاره نکړي ، ترڅو ددرواغجنو په قطار کې حساب نشي- .په حديث شريف کې راځي: عن أبي هريرة، أن النبيَّ- صلى الله عليه وسلم - قال: «كَفى بالمَرْء إثماً أن يُحَدِّثَ بكُل ما سَمِعَ». سنن أبي داود ت الأرنؤوط (۷/ ۳٤٤)

ژباړه: دابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی ، هغه وايې چې بيشکه نبي عليه السلام وفرمايل: کافي دي د سړي لپاره دومره درواغ ويل ، چې بيان کړي هر هغه څه چې اوريدلي يې دي.

**۸-د ناوړه تبليغاتو او درواغجنو خبرونو په خپرولو سره انسان د تهمت ، بهتان او غيبت مرتکب گرځي.**

يهودانو په موسی عليه السلام پورې تهمت تړلی ؤ، چې الله تعالی موسی عليه السلام د يهودو له تهمت څخه خلاص کړ , موسي عليه السلام ډير زيات حياناک انسان ؤ او هغه به د خپل عورت او ځان زيات خيال ساتلو ، يهودانو ور پورې تهمت ولگولو چې موسی عليه السلام په وجود کې برص يا بل کوم مرض دی ځکه هغه زمونږ سره يوځای نه لامبي. الله تعالی فرمايي: ( يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لا تَكُونُوا كَالَّذِينَ آذَوْا مُوسَى فَبَرَّأَهُ اللَّهُ مِمَّا قَالُوا وَكَانَ عِنْدَ اللَّهِ وَجِيهاً). الأحزاب: (٦٩)

ترجمه: ای هغو کسانو چې ايمان يې راړی دی يعنې ای مؤمنانو مه کيږئ په شان د هغو کسانو چې ايذاء يې رسولې وه موسی ته پس پاک کړ دغه موسی لره الله له هغو دروغو چې دوی پرې ويل او وو موسی په نزد د الله کې وجيه مخور خاوند د عزت.

د ناوړه خبرو خپرول له غيبت څخه خالي نه وي او الله تعالی د غيبت په اړه فرمايي:(وَلا يَغْتَبْ بَعْضُكُمْ بَعْضاً أَيُحِبُّ أَحَدُكُمْ أَنْ يَأْكُلَ لَحْمَ أَخِيهِ مَيْتاً فَكَرِهْتُمُوهُ وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ تَوَّابٌ رَحِيمٌ). الحجرات: (١٢)

ترجمه: او نه دې کوي غيبت ځينې ستاسې د ځينو نورو آيا خوښوي يو له تاسې څخه دا چې وخوري غوښې د ورور خپل حال دا چې مړ وي پس بد گڼي تاسې هغه نو همدارنگه بد وگڼئ د مسلمان ورور غيبت او عيب لټول. ويرېږئ تاسې له الله تعالی څخه بېشکه الله ښه توبه قبلوونکی ډېر رحم کوونکی دی.

په حدیث شریف کې راځي: عن أبي هريرةَ، أنه قيل: يا رسولَ الله -صلى الله عليه وسلم-، ما الغيبةُ؟ قال:«ذِكرُك أخاكَ بما يكرهُ » قيل: أفرأيتَ إن كان في أخي ما أقول؟ قال: «إن كان فيه ما تقولُ فقد اغتبتهُ، وإن لم يكن فيه ما تقولُ فقد بَهَتَّه» سنن أبي داود ت الأرنؤوط (٧/ ٢٣٧)

ژباړه: د ابو هريره رضي الله عنه څخه روایت دی ، هغه وایې نبي علیه السلام ته وویل شو چې ای د الله رسوله! غیبت څه ته ویل کیږي؟ نبي علیه السلام ورته وفرمایل: غیبت یادول ستا دي ستاد ورور په هغه څه چې هغه يې بد ګڼي. نبي علیه السلام ته وویل شو چې په دې مو پوهه کړه که چیرې زما په ورور کې هغه څه وي چې زه يادوم(نو بیا به هم غیبت وي؟) نبي علیه السلام ورته وفرمایل: که چیرې په هغه کې هغه څه وي چې ته یې وایې ، نو تا د هغه غیبت وکړ او که چیرې په هغه کې هغه څه نه وي چې ته یې بیانوي ،نو بیا دې هغه پورې بهتان وتړلو.

**اقول قولي هذا، استغفر الله لي ولسائر المسلمين**

**والسلام عليكم ورحمة الله وبركاته.**